**د افغانستان بانک**

**د غیر بانکي مالي مؤسساتو د څارنې لوی آمریت**

د مقرراتو او د برېښنايي پيسو او اداېنېزو مؤسسو د څارنې مرستیالیت

د مقرراتو ستر مدیریت

**گڼه:** ۷۵/۱۰ ۸۰۱۰۳

**نېټه:** ۶/۵/۱۴۴۸

---

**د برېښنايي پيسو او اداېنو مؤسسو د قدر وړ اتحادیې ته!**

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته:

**ماهیت:** متحدالمال

**موضوع:** د ځانګو د جوړولو په هکله

له ډیر درناوي وروسته؛

د برېښنایی پیسو او اداېنو مؤسسې کولای شي چې د خپلو فعالیتونو د پراختیا او د مشتریانو د ستونزو د حل په موخه د هیواد په مختلفو سیمو کې ځانګې جوړې کړي. یادې مؤسسې مکلفې دې چې د خپلو ځانګو لپاره وړ، باوري او مناسب شخص د استازي په توګه وګماري او د نوموړي جنايي او مالي جرمونو د نه درلودلو په اړه د خپل اړخ نه د کورنيو چارو د قدر وړ وزارت څخه استعلام په ذريعه ډاډ ترلاسه کړي.

سربېره پر دې، ذکر شوې مؤسسې مکلفې دي چې د هرې ځانګې د جوړولو څخه مخکې د نمایندګۍ د جوړولو فورم او په فورم کې ذکر شوي حمايوي اسناد د رسمي لیک له لارې د غیر بانکي مالي مؤسساتو د څارنې لوی آمریت سره شریک کړي.همدارنګه، یادې مؤسسې مکلفې دي چې د خپلو شته فعالو ځانګو اړوند معلومات او حمايوي اسناد هم د یاد فورم له لارې له دې اداري سره شريک کړي.

پورته موضوع ستاسو د قدر وړ اتحادیې سره شریکه شوه تر څو د اړونده مؤسساتو سره یې د وروستیو کړنو په موخه شریکه کړئ.

د افغانستان بانک ستاسو په چارو کې د لا برياوو غوښتونکی دی.**والسلام**

۵/۵/۱۴۴۸

**صدیق الله خالد**

**د افغانستان بانک لومړی مرستیال**

**مل:**

- د ځانګي فورم (۱) پاڼه،

---

د افغانستان بانک، ابن سیناوات، کابل افغانستان/ تیلیفون۲۱۰۴۷۶۱ (۲۰) ۰۰۹۳/ ایمیل: info@dab.gov.af/ ویب سایتwww.dab.gov.af
تولنیزي شبکي فیسبوک - د افغانستان بانک / تویټر - AFGCentralbank@ / انستاګرام - AFGCentralbank

# د افغانستان بانک

## د غیر بانکي مالي مؤسساتو د څارنې لوی آمریت

د جواز ورکولو مدیریت

### د برېښنايي پیسو او اداېنو مؤسسو د نمایندګۍ جوړولو فورم

دا فورم د برېښنايي پیسو مؤسسې د اجرائیوي رئیس په لاسلیک سره د غیر بانکي مالي مؤسسو د څارنې لوی آمریت د جواز ورکولو مدیریت ته وړاندې کیږي.

مهرباني وکړئ په لاندې جدول کې د برېښنايي پیسو مؤسسې د نمایندګۍ ځانګړتیاوې ولیکئ.

| | | |
|---|---|---|
| د مؤسسې نوم | | |
| د جواز شمېره | | |
| د نمایندګۍ شمېره | | |
| د نمایندګۍ موقعیت | ولایت | |
| | ولسوالي | |
| | ناحیه | |
| | مارکیټ | |
| | د دفتر شمېره | |
| د نمایندګۍ سره اړیکه | د تلیفون شمېره | |
| | برېښنالیک | |

**د مؤسسې اجراآت (د نماینده په اړه):**

د مالي او جنایي جرمونو مسئولیت نه درلول ☐ زدکړې (تحصیل): ماستر ☐ لیسانس ☐ فوق بکلوریا (۱۴ پاس) ☐ بکلوریا ☐

**ضمیمه (د فورم سره):**

☐ د نمایندګۍ د جوړولو لپاره دځار پلاوي تصویب؛ او

☐ د نمایندګۍ د فتر قرارداد خط.

د مؤسسې د اجرائیوي رئیس لاسلیک: ____________ مُهر یا ټاپه: ____________ نېټه: / /